SHARIAT
شریعت
په اوونی کي دوه ځله خپریږی
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتی ارگان
پنځم کال شپږ پنځوسمه گڼه پرله پسي (۳٤۳) سه شنبه د۱٤۲۱ هـ ق کال دجمادي الاول (۸)
د۱۳۷۹هـ ش کال د زمري دمیاشتی(۱۸) د ۲۰۰۰ میلادي کال د اگست (۸)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډیر نږدې دی تقوا (پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

د بهرنیو چارو وزارت محترم معین په یوه مطبوعاتی کنفرانس کی وویل :

د جرمنی دحکومت پریکړه له بین المللی موازینو نه سرغړونه ده

د افغانستان د اسلامی امارت د بهرنیو چارو وزارت د ملگرو ملتو د سازمان له سرمنشی او د جرمنی له حکومت څخه وغوښتل چی د هغو معلولو او معیوبو ماشومانو د لیږدونی په خاطر چی د المان د سولی په کلی کی تداوی کیږی د آریانا افغان هوایی شرکت الوتکو ته د الوتنی اجازه ورکړی.

د بهرنیو چارو وزارت معین محترم مولوي عبدالرحمن زاهد پرون له غرمی مخکی په یو مطبوعاتی کنفرانس کی چی د کورنیو او بهرنیو ژورنالستانو په گډون په دغه وزارت کی جوړ شوی و وویل :

د جرمنی حکومت د ټولو نړیوالو موازینو او د ملگرو ملتو د سازمان د امنیت شورا د پریکړه لیک پر خلاف د اریانا افغان هوایی شرکت د الوتکو الوتنی چی معیوب او معلول ماشومان بی د علاج او درملنی لپاره د المان د سولی کلی ته لیږدول او له دی سره جوخت د خلکو د اړتیا وو د لری کولو په خاطر بی د اړتیا وړ درمل لیږدول بندی کړیدی.

ده زیاته کړه د جرمنی د حکومت ٤ مخ

د فواید عامی وزیر محترم مطیع الله مطیع له شریعت سره په مرکه کی :

د کابل - کندهار د لویی لاری د قیر اچولو کار په چټکی سره روان دی

د کابل، تورخم او هرات - تورغونډی د لویو لارو کار به هم ډیر ژر پیل شی

تر اوسه پوری مو ددی کار لپاره ۲۵۰۰ ټنه قیر برابر کړی دی

د معیاری ترمیم او قیر اچولو کار د فواید عامی وزارت د مسلکی کارکوونکو لخوا تر سره کیږی

شریعت : په هیواد کی د اسلامی امارت له تحکیم سره سم په هره گوښه کی د اعمار او بیا رغاونی کارونه هم پیل شول ویجاړ ښارونه، لویی لاری، سرکونه ، مدرسی ، پوهنتونونه ، د هیواد د بیا احساسه چارواکو په پاملرنه ټول د بیا رغونی په درشل کی قرار لری.

پورتنی خبری د اسلامی امارت د فواید عامی محترم وزیر مولوی مطیع الله مطیع زموږ له خبریال سره د یوی مرکی په ترځ کی څرگندی کړی.

نوموړی د کابل قندهار د لویی لاری د ترمیم او قیر ریزی په اړه وویل : ددی لویی لاری د بیا جوړونی او قیر اچولو کار په چټکی سره روان دی له موږ سره په خپله هم بوه اندازه قیر شته چی کار مو وربانډی روان کړی ۱۵۰۰ ټنه مو له ایران څخه اخیستی او ۱۰۰۰ ټنه د پاکستان حکومت را سره همکاری کړی موږ په پام کی لرو چی د کابل تورخم او هرات تورغونډی په سرکونو هم په دی لنډو نږدی ورځو کی کار پیل کړو .

د کابل - جلال آباد د سرک د ترمیم او قیر اچولو په هکله مو له افرید موسسی سره قرار داد کړی خو تر اوسه بی کار ص ٤

مدرسه اقتصادي وزارت معارف مجدداً اعمار میگردد

کابل - باختر :

کار اعمار مجدد مدرسه مالي و اقتصادي وزارت معارف واقع دارالامان شهر کابل دیروز آغاز گردید

مدرسه مالي و اقتصادي وزارت معارف که در اثر حوادث ناگوار گذشته تخریب گردیده بود بالاثر توجه مسوولین امور کار احیا و بازسازي مجدد آن دیروز طي محفلي به اشتراك محترم مولوي سعید احمد شهید خیل معین اداري و بعضي از رؤساي وزارت معارف آغاز گردید .

اعمار مجدد مدرسه متذکره بمصرف دو ملیارد افغاني از بودجه انکشافي امارت اسلامي توسط یکي از شرکتهاي ساختماني آغاز گردیده و در مدت هشت ماه به پایه اکمال خواهد رسید.

هیات ا.ا.ا وارد کشور هاي المان و سلواك گردید.

کابل - باختر :

هیأت بلند پایه ا.ا.ا مصروف دیدار از کشور هاي آلمان و سلواك میباشد

هیأت عالیرتبه امارت اسلامي که در ترکیب آن محترم مولانا عبدالرزاق وزیر تجارت، محترم ملا محمد ص ٤

د کانو او صنایعو وزارت د کانو د استخراج ریاست :

د روان کال په لومړی ربع کی ۱۱۲۷۰۷۸۸۲۲۵ افغانی عواید تر لاسه کړی دی

په فنی توگه د کانونو استخراج او د هغو په کار اچول به زموږ د اقتصادی بنی په تقویه کولو کی ښه رول ولوبولی شی.

دغه ټکی د کانو او صنایعو وزارت د کانو د را ایستلو د تصدی مرستیال محترم انجنیر محمد الله امر خیل زموږ له خبریال سره په مرکه کی څرگند کړ .

محترم امر خیل وویل : زموږ پر هیواد د روسیی پرغل زموږ د ژوند هر لوری تاوانی کړ په تیره بیا د ٤ مخ

شوراي عالي ستره محکمه دایر گردید

کابل - باختر :

شوراي عالي ستره محکمه دیروز دایر گردید.

در شوراي متذکره که تحت سرپرستي محترم مولوي رفیع الله مؤذن معاون ستره محکمه تدویر گردیده بود روي استهدات ریاست تدقیق و مطالعات ستره محکمه و پیشنهادات کمیسیون تجدید نظر و همچنان روي در خواستهاي تبدیلي موضوعات در محاکم و سایرمواد شامل اجندا بحث و بررسي دقیق بعمل آمده و در بخشهاي متذکره تصامیم لازم اتخاذ و به مراجع مربوط ابلاغ گردید.

په کابل کی د اومر موسسی مسؤل محترم حاجي فضل کریم له بی بی سی سره په مرکه کی:

د ازموږ لپاره یوه غیر مترقبه پیښه ده چی د لومړی ځل لپاره را سره کیږی

د شنبی په ورځ د بادغیس ، هرات په لاره کی د سری وژونکو مخالفینو لخوا د اومر د ماین پاکی د موسسی اووه تنه بی گناه کار کوونکی په ډیره وحشیانه ٤ مخ

منسوبین شفاخانه ۲۵۰ بستر رابعه بلخي با تمام تجهیزات طبي در خدمت هموطنان عزیز قرار دارد

شفاخانه رابعه بلخي یگانه شفاخانه کمپلکس انائیه در شهر کابل بوده که داراي ۲۵۰ بستر میباشد وبه موقعیت اصلي خویش در پل باغ عمومي متصل شفاخانه ستوماتولوژي قرار داشته که تعمیر آن به همکاري موسسه سازمان صحي جهان احیا و ترمیم گردیده است و داراي بخش هاي مختلف ولادي ص ٤

صهیونستی غاصبو ځواکونو ځلور لبنانیان ووژل

پداسی حال کی چی د ملگرو ملتو سازمان پرون د لبنان د جنوب په پولو کی د خپلو کتونکو په ځای کولو بوخت و د اسرائیلو اشغالگرو ځواکونو د لبنان د جنوب په خلکو د زی وکړی او ځلور تنه بی تیپان کړل.

د اسرائیلو اشغالگرو ځواکونو پداسی حال کی چی د لبنان د جنوب په پولو کی د اعتراض کوونکو په دلی د زی وکړی چی هغوی اسرائیلو په ضد له اعتراضه دکه غونډه جوړه کړی وه .

براي اولین بار:

در پروگرام ماین پاکي افغانستان کسرات وضع شد

شریعت : بونوچا بعد از ۱۰ سال فعالیت پروگرام ماین پاکي افغانستان را ٤۰ فیصد کاهش داد .

این مطلب را محترم ص ٤

عنقریب اهالي کارته پروان از نعمت آب آشامیدني صحي مستفید میگردند

شریعت : با حفر دو حلقه چاه عمیق ۷۰ متر در ساحه خوشحال مینه توانستیم آب آشامیدني صحي را در مناطق کارته مامورین، باغ بالا، کارته پروان، دهن باغ و برخي از حصص خیرخانه مینه شهر کابل دو باره تامین نمایېم.

اني مطلب را محترم نجیب الله مسول موسسه خیریه اطفال جنگ زده در کابل به خبرنگار ما اظهار داشته افزود : اطفال جنگ زده یك موسسه خیریه غیر حکومتي داخلي در چوکات موسسات غیر حکومتي وزارت پلان ا.ا.ا ص ٤

یو تن جعل کار مامور ونیول شو

کابل - باختر :

د عدلیی وزارت یو مامور چی په جعلکاری بی لاس پوری کاوه پرون ونیول شو .

٤ مخ

نمایی از شهر کابل

عکاسی یوسف

د امریکی د اور وژنی مامورین د لگیدلی اور په کنترول بریالی شول

د اور وژنی مامورین چی د امریکا د متحده ایالاتو په لویدیځو برخو کی د اور وژنی په خاطر کار کوی پرون یی وویل چی دوی د اور د وژلو لپاره یو لړ بریالیتوبونه تر لاسه کړیدی.

د امریکا د متحده ایالاتو د اور وژنی مامورینو وویل : دوی په دی بریالی شویدی چی له مساعدی هوا نه په استفادی سره خپل کار ته دوام ورکړی.

دوی وویل : له دی امله چی په سیمه کی سخت بادونه دریدلی دی د دوی په کارونو کی اسانتیاوی برابری شویدی. په اوس وخت کی د امریکا د متحده ایالاتو په ځنگلونو ٤ مخ

منابع تامین آب آشامیدني کشور چین غیر صحي میباشد

وزارت منابع آب در جمهوري مردم چین اعلان کرد که منابع تامین آب آشامیدني سي ملیون نفر از مردم آنکشور غیر صحي میباشد.

طبق گزارشهاي منابع خبري وزارت منابع آب در جمهوري مردم چین گفت که بیش از هفتصد رود خانه تامین کننده آب آشامیدني در آنکشور تا چل و شش در صد آلوده اند. ص ٤

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

مخالفین د خپلو سیاسی موخو لپاره هری ناروا ته لاس اچوی!

دوه ورځی مخکی د هیواد په شمال لویدیځ کی د هرات او بادغیس تر منځ د مین پاکی د اوو تنو کارکوونکو وژنه یقیناً ډیره خواشینوونکی او د غندلو وړ پیښه ده، د ملگرو ملتو او نورو خیریه موسسو کارکوونکی په هر صورت بیا هم زموږ د هیواد او خلکو سره په مرسته لگیا دی او له همدی کبله بی په ټولو افغانانو دا حق دی چی په ښه ډول ۲ مخ

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»

مرستیال : غلام محمد فاروق

دیوې گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداری

پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱- توزیع او شکایات :٦۲۸٥۹

جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

چلند ور سره وکړي او د ساتنې او پالنې خیال یې وساتي، د افغانستان اسلامي امارت چې د خپل مظلوم ملت خیر ښېگنه یې یو لوی ارمان دی، تل دا هڅه کړې چې د خیریه موسسو او ملگرو ملتو د کارکوونکو لپاره ښه شرایط برابر کړي او تر وسه وسه مرسته او ملگرتیا ورسره وکړي، دا حقیقت هغه وخت لا ښه څرگندیږي چې سړی د تیر ائتلافي رژیم په وخت کې د ملگرو ملتو د کار کوونکو سره پر بېلا بیلو ناوړه چلندونو یو ځغلنده نظر واچوي او بیا وگوري چې په دې هکله څومره ښه والی منځ ته راغلی دی خو خیر هر څنگه چې وي اسلامي امارت پر دغه پېښه خپله سخته خواشیني څرگندوي او په سختو الفاظو یې د غندلو وړ بولي دا چې ددې ناوړه پیښې تر شا به د مخالفینو کوم اهداف وي ، له څیړونکو پټه نه ده، ځکه هغوی تل د خپلو شومو مقاصدو لپاره د خپل هیواد ټول ملي منافع شاته غورځولي او هیڅکله یې هم په ملي او بین المللي کچه د کوم دود دستور خیال نه دی ساتلی، د پیښې د جزئیاتو له څیړلو نه څرگندیږي چې مخالفینو غوښتل په هر ډول چې وي خپل موجودیت وښيي او خبرې ته نړۍ وال اهمیت ورکړي ځکه هغوی د عادي غلو او لار وهونکو پر خلاف نور ټول خلک یې ښه او بې بدو خوشې کړي، خو یوازې د مین پاکۍ دا دوه موټر یې پرته له دې چې کوم شی ترې واخلي ، سوي او بېگناه سپرلي یې وژلي ده .

که څه هم د تورن اسماعیل د تښتې نه وروسته د ایران له پولو په راوښتلو د یو څو دا ډول غدیو هڅه مخکې هم شوې وه چې د امنیتي چارواکو له خوا په خپل وخت شنډې شوي او ګڼ کسان یې بندیان او ووژل شول، خو له بده مرغه ددغې پیښې لپاره ښکاري چې دقیق پلان جوړ شوی او لا د مخکې نه د مین پاکۍ دغه دوه موټر څارل شوي او په یوه مناسب ځای کې یې لار ورته نیولې وه مونږ په داسې حال کې چې له یوې خوا په دغه پیښه خپله ژوره خواشیني څرگند وو او پرعاملینو یې بدوایو، د ملگرو ملتو له سازمان څخه هم دا گیله پر ځای بولو چې څنگه یې مخالفین له دغسې ناوړه کړو وړو سره سره بیا هم په رسمیت پیژندلي او د افغانستان د یوه قانوني حکومت په سترگه ورته گوري ، نه پوهیږو د ملگرو ملتونو چارواکي کوم ضد اخیستي چې زمونږ په هیواد کې له موجودو واقعیتونو سترگې پټوي، مخالفین که هر څومره یو ناروا او له ټولو نړۍ والو نورمونو خلاف عملونه تر سره کوي، هیڅ غوږ نه پرې گروي، خو د اسلامي امارت په هکله یې د مکررو اخطارونو کړي پرانستې ساتلې روا او قانوني غوښتنې یې هم نه مني، ملگري ملتونه دې ته نه گوري چې سره له رسمیت پیژندلو او نورو لاپو باټو بیا هم مخالفین د دوی په مقابل کې څه کوي، نو د ملگرو ملتونو د همدې له توپیره ډک دریځ په لرلو یقیني ډول وبلای شو چې په افغانستان کې دغه موجوده ستونزې ملگرو ملتو او ځینو نورو مغرضو هیوادو را پیدا کړې دي، ځکه دا خو ټولو ته معلومه ده چې مخالفین د افغان ولس له منځه شړل شوي او نور یې د پښو ایښودلو ځای هم نه دی پاتې خو د همدغو پردیو لاس وهنو په تکیه لا تر اوسه پایېدلي او خپلې شوکماری ته یې دوام ورکړی، نړۍ وال دا حقایق په ښه ډول وینې چې څوک یې په رسمیت پیژني، څوک وسلې او پیسې ورکوي، څوک یې نړۍ والو غونډو او کنفرانسونو ته وربولي او څوک لا د نورو لارونه نوم او شهرت ورکوي د افغانستان اسلامي امارت یو ځل بیا د ملگرو ملتو او ټولو نړۍ والو څخه غوښتنه کوي چې باید زمونږ د هیواد حقایق په نظر کې ونیول شي او له اسلامي امارت سره د نظم، ثبات او استحکام په راوستلو کې مرسته وکړي او دا کار به هم د ملگرو ملتونو او هم د سیمې د امنیت په گټه وي او د یوه سوله ایز گډ ژوند زمینه به مساعده شي.

د دیني عالمانو ټولنیز خدمتونه

ملا محمد اصغر عاکف

نړۍ که نړیدلې نه، توم به یې بل څه و او دنیا که په هیڅ نه وای حساب، نو نوموړنه خو نور هم ډیر و او انسان له نسیان څخه اخیستې شوی دی چې د هیرېدلو ماناً لري نو دا او هاغه دواړه نیمگړی وگڼه، که څه هم دا نن سبا چې انسان کومې لاقې وهي تر یوه ځایه یې منو ځکه چې یو خوبې خدای «ج» ورکړې څواک په کار واچاوه او بل دا چې مخکې هم د خپل کوگل پټې خزانې ورته رابرسیره کړې خو خبره بیا د هغه چا ده چې وایي : د نړیدلې پاڼ په سر به جوړ شوي کور خامخا یوه ورځ د قیامت طوفان له بېخه ونړوي.

که څه هم دلته ډیر و ستیو لاس او پښې وتړپولې تر څو څه ځان او یو څه نورو ته یوه کړي، څوک د فکر په تیال وزنگیدل او چا پاس هوا ته د پورته کېدو په نیت ځانته د مرغانو وزرونه جوړ کړل او ځینو په لالونو پسې په سیندونو کې غوپې وخوړې او ټولو ښایسته یو شی رابود کړل او لالگیا دي څه په نور هم ومومي مگر دا خبره به هیڅوک له پامه ونه باسي او ټول پوهیږي چې د انسان دغو خدمتگارانو خپلو همنوعو ته د درملو تر څنگ وژونکي زهر هم برابر کړل په دې مانا چې څو به ورباندې روغوي او څو نور به ورباندې وژني، د مخکې یوه پیسگکه به ودانوي او بله به ورانوي په دې دې څوک نه غولیږي او نه یې دا خدمت دومره د قدر او ستاینې وړ دی ځکه هغوی یوازې مادیاتو ته پام کوی او له معنویاتو سره هیڅ کار نه لري بلکې د ستاینې وړ هغه انسان دی چې د انسان مادي او معنوي دواړه ارزښتونه په پام کې ونیسي.

نړۍ ته د خدای «ج» نازولي استازي او پیغمبران راغلل چې پیل یې په ابو البشر آدم «ع» او پای یې په حضرت محمد «ص» و د انسانیت دغو ټولو ناجیانو او مصلحینو انسانانو ته د دنیوي او اخروي ټولو نیکمرغیو لارې وروښوولې او هر یوه به خپل امت ته دا ویل چې دنیا د اخرت له پاره یو کښت او یو یو مسافر د یوې شپې د تیکې ځای دی، بل ژوند به راځي (ابدي ژوند) داخـــرت د تیـتـمرغـې لاره تیـنگه ونیسی او دنیا هم مه هیروی د خدای «ج» ددغو استازیو ټول کړه وړه داسې د چې له یوې مخې د انسانانو په گټه و هغوی دا هم ویل چې مومن مسلمان باید ددنیا د هیلو او هوسونو د نیلي زغلولو ته دومره پراخه ډگر په پام کې و نه نیسي چې هیڅ پولې او حد ته قایل نه وي نو همدا لامل دی چې د مومنانو له دنیا سره تړاو له اندازې پورته نه ځي بلکې دومره دی چې اړتیا یې وي او دا د اسلام لاره ده .

مونږ په خپل هیواد کې هم د وخت داسې واکمنان درلودل چې په څرگنده یې د اسلام او ملت سره د خواخوږي خبرې کولې او د هیواد د پرمخـتـگ او خلکو ته یې د خـدمت او هوساینې باټې وهلې مگر په پای کې هیواد ، د دوی له لاسه وران ویجاړ او اسلام مو له خطر سره مخامخ شو د پر مختللي او متمدن ژوند په شعار یې غربي فرهنگ را باندې وتپه او د ازادۍ په بدښاگـومـه او بدمـرغـه ناره یې کمونستي پلیتـه مفکوره راووړه چې پایله یې هر چا د سر په سترگو ولیده، مگر دا چې خدای «ج» زمنه کړې چې زه به اسلام او قرآن کریم ته ریښتوني خادمان پیدا کوم. او هغوی ته به اسلام او دین ته د خدمت کولو فرصت ورکوم او زمینه به ورته برابروم زمونږ د هیواد د دیني عالمانو خدمتونه له هیچا پټ نه دي له هغه مهال نه چې د اسلام د سپیڅلي دین لمر د افغانستان په افق خپلې ځلاندې وړانگې خپرې کړې دي د دغو دیني عالمانو د ملت په مقابل کې خپل علمي او اسلامي رسالت سرته رسولی دی څرنگه چې د اسلام د ظهور او زمونږ هیواد ته یې د راتلو څه د پاسه ۱٤۰۰کاله تیریږي د دغو پاک نفسو د مسلمانانو زړونه له هر راز خیرو او شکونو پاک ساتلي دي د خدای د عبادتونو اداکولو سمې او مشروعې لارې او د معاملاتو، (راکړې ورکړې) کسب او کار، لنډه دا چې ټول هغه اصول او فروع چې یوه اسلامي ټولنه ورباندې جوړیږي او پایښت ورته ښوولي دي تاسو وگورئ چې زمونږ په اسلامي ټولنه کې د یو ماشوم د زوکړې په سبا د هغه په غوږو کې محـمـدي «ص» اذان کول د دیني عالم دنده ده او بیا چې لږ ستر شي نو د هجا توري د الف با سپاره امنت با الله د اسلام پنځه بناوې، شپږ گونې کلیمې، د جنازې ، جمعې او اخترونو لمنځونه ور زده کول د عالم په غاړه وي او دا خو څرگنده ده چې د یوې ټولنې له سره په اسلامي او مذهبي اصولو جوړول ډېر زور غواړي په اسلامي تاریخ کې ذکر دي چې کله به صحابه کرامو په نورو مسئلو سر ښیره د ښځو د ځانگړیو ناروغیو او شرعي معذرتونو د حکمونو په هکله پلټنې کولې او له کومې ستونزې سره به چې مخامخ شو نو به یې حضرت عایشې «رض» ته مراجعه کوله تر څو هغه دوی ته د رسول الله «ص» د کړنو په برخه کې معلومات ورکړي نو کله به چې ستونزه د حل شوه شکر به یې وویست او عایشې «رض» ته به یې داسې دعا وکړه ای عایشې! تاته دې خدای «ج» خیر رکړي مونږ دې له ستونزې خلاص کړو زمونږ دیني عالمانو داسې ستونزمن مسایل هم د خپل شرعي او علمي مسؤلیت له مخې خلکو ته ښه بیان کړي دي او ښځې او نارینه ور څخه مستفید شوي دي ان تر دې چې زمونږ په اسلامي ټولنه کې به یوه داسې ښځه کمه وموندې چې هغې ته دې د ښځینه مړي د غسل، کفن او داسې نورو چارو معلومات نه وي زمونږ دیني عالمانو د تاریخ په ټولو دورو کې د خپل ولس او خلکو خیر او نیکمرغي غوښتې اود مصلحت لاره یې ورته ښوولې ده د خلکو تر منځ حقوقي مسئلې یې حل کړې او گیلې یې له منځه وړې د پرگنو کلیو کورونو او د دوو وروڼو تر منځ په لانجو کې په صداقت سره حاضر شوي او هلته یې د جوړ جاړي فضا راوستلې او دې ته یې نه دي پرېښي تر څو هغوی د وخت د عیاشو او ظالمو واکمنانو منگلو ته ورشي لنډه دا چې زمونږ دیني عالمانو کله هم خپل مسلمان ورونه د ژوند په ټولو برخوکې یوازې نه دي پرېښي او کله چې بیا خبره د خاورې د تمامیت او د بهرنیو د مداخلو راغلې د اسلام مقدس جهاد یې اعلان کړی او د ټولو تر مخ یې په جهاد کې ونډه اخیستې ده او تر نن پورې دا دې لگیا دي خپل دین او ملت ته خدمت کوي.

فلپیني مسلمانان به کله آزادي تر لاسه کړي؟

د محمد الله نورستاني ژباړه

د فلیپین په سهیلي سیمه «میندانائو» کې د مسلمانانو غالب اکثریت دی. د نوموړې سیمې د مسلمانانو له اوږدې مودې راهیسې دا غوښتنه پاتې شوې چې دوی ته دې په نوموړې سیمه کې ازادي او خپلواکي ورکړی شي لیکن فلپائني حکومت د «مورو» مسلمانانو د دغه غوښتنې د هیش لپاره له پامه غورځولې چې په نتیجه کې له تقریباً ۲٦ کالو څخه تر مخه په «میندانائو» کې د مورو د قومي ازادۍ د محاذ د لارښود نورمیشواري تر مشرۍ لاندې د ازادۍ لپاره وسله وال مزاحمت شروع شو چې په څنگ کې ورسره د مورو د ازادۍ اسلامي محاذ چې مشري یې سلامت هاشم کوي هم یو مضبوط او د موثر قوت خاوند گوند دی که څه هم و ری و ړی نوري اسلامي ډلې هم یکاړ بوختې دي لیکن اساسي او کلیدي کردار د دغو نوموړو دوو گوندونو ته حاصله دی، فلپیني حکومت هـ له اولې ورځې څخه پدې کوښښ کې و چې د خپلواکې دغه عمل د طاقت په زور خاموش کړي لیکن هیڅکله هم نوموړی حکومت پدې بریالی نشو او بالمقابل د مورو مسلمانانو پیژندگلوي او اثر نفوذ لا پسې پیاوړی شو. په ماضي قریب کې لکه د نورو سیمو دلته هم کوښښ وشو چې خبره د میز پر سر د خبرو اترو له لارې حل شي لیکن کومه خاصه کامیابي تر لاسه نشوه ځکه چې فلپیني حکومت د خپلې برلاسي په درلودو سره په مذاکراتو کې شریک و ځکه خو د مذاکراتو د کامیابي سوال قدري هم نه پیدا کېده.

په ۱۹۹٦ کې فلیپیني ولس مشر فیدرل راموس د قومي محاذ لارښود نورمیشواري سره له خبرو اترو څخه وروسته د سولې لوظنامې باندې لاسلیک وکړ لیکن دغه نوموړې لوظنامه پدې عملي نشو چې هلته له فلیپني قانون (حکومتي منشور) سره سم مسلمانانو ته د نیمایي ازادۍ او خپلواکۍ ورکولو خبره شوې وه کومه چې د مسلمانانو د خوځښتونو لپاره په هیڅ قسم هم د منلو نه وه .

پدې نږدې وخت کې د فلیپین او سنې ولس مشر جوزف استردا له خوا د اسلامي ازادۍ محاذ سره د میندانائو پر مستقبل باندې د خبرو اترو وړاندیز وشو کوم چې د نوموړې غورځنگ د رهبر سلامت هاشم لخوا مثبت ځواب ورکړ شو لیکن په پروتوکول او اجندا کې د ځینو ستونزو له کبله د دواړو مشرانو تر منځ تر اوسه پورې د نیغ په نیغه مذاکراتو امکان ندی برابر شوی. له دې سره سره د خبرو او مذاکراتو ځای تعیین دی چې د ازادۍ اسلامي محاذ، د خبرو اترو لپاره مالیزیا، اندونیزیا یا لیبیا غوتدي کوم دریم گړی هیواد مقررول غواړي کوم چې فلیپیني حکومت بر عکس پخپله برلاسي (په فلیپین) کې د خبرو اترو غوښتونکی دی.

د تیر کال د مې په نیمه د دواړو غاړو تر منځ د دوو ورځو خبرو اترو کې هم په دغې مسئلې اتفاق ونشو په هر حال، د فلیپیني حکومت او د اسلامي ازادۍ د محاذ تر منځ د خبرو نتیجه ورکول دومره بعیده نده لیکن په واقعیت کې د مسلمانانو پر وړاندې د کفارو د عمومي چال چلند په هنداره کې د خبرو اترو نتیجه ښېځې تا ممکنه بریښي او هیله کیږي چې ډیر ژر به د جوزف استردا او سلامت هاشم تر منځ یو با مقصده او با معنی مذاکره وشي څنگه چې دې خبرې ته مخکې ولس مشر فیدرل راموس هم د گوښه کړې شویو جنرالانو سره په یوه غونډه کې اشاره کړې د نوموړي په وینا ... د مورو مسلمانانو یا د میندانائو مسئلې حل نظامي نه بلکې ددواړو اړخونو خبرو اترو ته کیناستل پکار دي.

ښه خبره دا ده چې د مورو مسلمانانو ستونزه د خبرو اترو له لیارې پرمیز باندې حل کیدای شي لیکن شرط یې دا دی چې فلیپیني حکومت پخپل قول او عمل کې له اخلاص څخه کار واخلي، د ازادۍ اسلامي محاذ او د قومي ازادۍ محاذ سره په اخلاص سره ناسته ولاړه وکړي او که نه بیا په میز باندې له حل څخه هم څه نتیجه مرتب کیدای، دې لړکې د اسلامي ازادۍ د محاذ مشر سلامت هاشم له خوا د مذاکراتو لپاره وړاندې کړې شوې نکتې د لارښود رول لوبولای شي چې یکې د دواړو خواوو ته د یو شان پروتوکول او اجندا جوړولو خبره شوې ده . البته دغه ټولې خبرې په هغه صورت کې ممکنې دي چې فلیپیني حکومت په واقعیت سره ددغې لانجې د حل او د سولې غوښتونکې شي.

مینه

شهید بسم الله

«سحر»

هیڅ پټیــــــه نده دا رښــــتوا مـــــینه ده　　نه غلی کـــــــــیږی د رښا مـــــــینه ده

ثوی ورته او ښکو په ځای وینی غـــــــواړی　　دا یی قـــــــانون دی د آشنا مـــــــینه ده

په دروغــــــــــو نشی آزمــــــــــوینی لری　　چل پکی نشـــــته ده رښتــــیا مـــینه ده

په زړه می ځی خـــــــو د اغــــــزیو په ځای　　د آرمـــــان گله دغـــــه ستـــــا مـــینه ده

سـوځی لمــبـــو کی چی ځوانی د ســـحـــر

دا یو ځانگړی شـــــــان ښکلا مـــــــینه ده

فریاد

مژده

بلبـــلان را نغـــمـــه مـــســـتانه در منقـــار کـــو ؟
عطر ســــوسن در فـــضـــای گلبن و گلزار کـــو ؟
حـــاصل نقـــد ســـخن را جـــز کـــسادی هیچ نیـــست
یوسف نقش قلم ز گـــرمـــی بازار کـــو ؟
از کـــجـــا روید درین باغـــچـــه های شـــعـــر تر
در کـــویر تشنه کـــامـــان برگ کـــو و بار کـــو ؟
از تفـــرق حـــاصل خـــونهـــا به خـــاك تیـــره رفت
حـــاصل مـــا زین عـــمل جـــز ذلت و ادبار کـــو ؟
د . ســـخن هر یك شـــتـــاب آلود راه وحـــدتیم
لیك همگامی مـــیـــان گـــفـــتـــه تا کـــردار کـــو ؟
ضـــد عـــدوان صلیـــبـــی دشـــمـــن اهل حـــرم
همـــچـــو ایوبی دلیـــری در صف پیکار کـــو ؟
عـــرض بطحـــا بار دیگر در خطر از دشـــمـــنان
قلبـــهـــا غـــرق تپش امـــا یکدل بیـــدار کـــو ؟
پرده داران از خـــودی جـــوئیـــد نیـــروی مـــصـــفـــا
از صف اغـــیـــار مـــیـــجـــوئیـــد یاری ؟ یار کـــو ؟
در فـــرات و دجله نقـــشـــی از رم مـــوجی نمـــاند
در خـــروش نیل ترفـــانی چو عـــهـــد یار کـــو ؟
در طریق عـــشـــق ترك مـــر بود گـــام نخـــســـت
همـــچـــو منصـــور آرزومند طناب دار کـــو ؟
در حـــرم فـــریاد کـــردم « مـــژده » از ســـوز نهـــان
در مـــیـــان پرده داران محـــرم اســـرار کـــو ؟

عمل

بهار

چی عـــــمل نه وی مـــشکل نه اســـانـــیږی
په گـــــــفـــــتــــار باندی وطن نه آبادیږی
حـــرکت کـــړی مـــنزل لنډ کـــړی را بیـــدار شی
په سکوت کی ځوک هدف ته نه رســـــیـــږی
کـــه مؤمن یی پاک اســـلام ته خـــدمت گـــار شـــه
بی هوده نـاســـــتــــــه دی هیڅ نه پکاریږی
نیـک عـــــمل دی بـــه مـــتـــاع ده دی بازار کی
بد عـــــمل خـنثی ده نه خــــر ځـــــیـږی
زه بهـــــار دا نصـــــیـــحت کـــــومـــــه وروڼو!
کـــامـــیـــابی له اتحـــاد نه پیـــدا کـــیږی

د شعر او ادب نړۍ

چې کـــشـــور د افـــغـــانانو مـــعطر کـــا
د هر بیت مصرع مې زلفې د خوبان کړي

موږ کتلي دغه فال دی

بدرالدین

د اعـــجـــاز د آریانا دی دا کـــمـــال
چی دښـــمـــن یی وی همـــیـــش مخ په زوال
په راتلو یی مـــقـــدم دی اســـتـــدبار
چا چی کـــړی آریانا ته دی اقـــبـــال
دا قلزم دی چی بی غـــرق فـــراعنه دی
مـــســـبـــحـــا دی مـــسلم د هردجـــال
دا د ســـــــد سکندر تاریخ دانـــانو
ډیر یا جوج مـــاجوج بی کـــړی دی پایمـــال
لکه حس چی د مـــعنی نشی په ســـترگـــو
هسی کـــړی د عـــدم دی انفـــعـــال
لا تر اوســـه بی زخـــمـــونه دی ناســـور
چی پری خښ دی د افـــغـــان د لاس نصـــال
د نصـــرت تصـــور هسی کـــړی اغـــیـــار
بدرالدینه مـــوږ کـــتلی دغـــه فـــال

۳ شرح منظومهٔ عروج و نزول اسلام

پوهیالی لیلما "یما"

ادامه دهندگان راه پیامبر "ص"

خلفاي راشدين و برخي از مبارزان صدر اسلام

بند دهم :

تا که آن سرور به عالم داشت اثبات وجود
بر رخ امت در هر گونه خوبي را گشود
بعد از آن کز ما به روح پر فتوحش صد درود
چون نظام مسلمين را جانشينانش نمود
رحمت حق بر روان پاك شان كز سعي شان
شرح احمد گشت عالمگير در اندك زمان

شرح : تا زماني كه سرور و سردار عالم در قيد حيات بود به وسيله ارشاد و رهنمايي و رهبري سالم خود دروازه هاي سعادت و خوشبختي را به روي امت خويش گشوده بود و اما زماني كه آن بزرگوار كه از جانب ما به روح پاكش درود فراوان باد، به رحمت حق پيوست، جانشينانش (خلفاي راشدين و روندگان صديق و راستين تراه پيامبر «ص») كه رحمت خداوند «ج» به روح پاك آنها هم باشد راه آن بزرگان را تعقيب كردند و به وسيله ارشاد، رهنمايي، رهبري و تدبير درست ابعاد مختلف زندگي مردم را تكامل دادند و ايشان را به راه راست و سالم فرا خواندند. و به اثر كوشش و تلاش آنها بود كه شريعت غراي محمدي «ص» كه ضامن خوشبختي و سعادت مسلمانان است در اندك زماني در نقاط مختلف جهان پخش گرديد.

بند يازدهم :

صاحبان صدق و عدل و حلم و علم و احتشام
اهل عزم و همت و ارشاد و جدو جهد تام
در فتوت، در شجاعت در وفا هر يك به نام
در طريق حق همه چون برق خاطف تيزگام
بهره اندوزان فيض خاص ديدار رسول
جان فداي شان كه بودندي فداكار رسول

شرح : خلفاي راشدين و اصحاب و ياران حضرت پيامبر اسلام «ص» چون به ديدار پر فيض آن مبارك نايل آمده بودند و اسلام را از دست اول آن يعني آن ذات مبارك فرا گرفته بودند بناءً اشخاصي بودند كه از روي علم و دانش عمل ميكردند و صداقت، راستي، عدالت، صبر، برده باري و بزرگمنشي پيشه شان بو و مردماني بودند داراي عزم متين و همت بلند و در ارشاد و رهنمايي مردم كوشش و تلاش فراوان مينمودند و در سخاوت و شجاعت و در وفا به عهد مثل بودند و در پياده كردن اهداف اسلامي چون برق، درخشنده گي چشمگير داشتند و جان ما فداي ايشان باد زيرا آنها مددگار رسول خدا «ص» بودند.

بند دوازدهم :

مقتدياني كه در دنبال ايشان اقتدا
شاهراه عالي فوز و فلاح است و هدي
جان نثاران پيمبر خاصگان كبريا
ناصران دين و اهل دين حق را پيشوا
در رياست و در سياست در ديانت بيعديل
صاحب دلهاي صاف و مظهر خلق جميل

شرح : تابعين و تبع تابعين و ساير رهروان حقيقي اسلام مقتدياني بودند كه در عقب خلفاي راشدين و صحابه، كرام اقتدا كرده اند بناءً ايشان مردم را به شاهراه پيروزي و خير و فلاح رهنمايي و هدايت ميكردند و خود را فدايان جان پيغمبر ميدانستند و از جمله خاصان دربار كبريا بودند و راهروان راه حق را پيشوايي ميكردند و كمك مينمودند. همانطوري كه در عرصه، سياست كار فهم و آگاه بودند در امور دولت داري نيز بي نظير بودند چه پيوسته در بهبود زنده رعاياي خويش ميكوشيدند دلهاي شان پاك و عاري از كدورت بود و منبع خلق پسنديده.

بند سيزدهم :

رهروان و رهنمايان صراط المستقيم
يار يار از حق بشارت ياب جنات النعيم
پاك فطرت صاف طينت جمله جواد و كريم
با امانت با ذكاوت صاحب قلب سليم
داشتند از بس ثبات وعزم و تمكين و وقار
بود رعب و هيبت و صولت از آنها آشكار

شرح : رهروان و رهبران راه حق و صراط المستقيم افرادي بودند دارنده، فطرت پاك، نيت صاف، باطن مصفا، امانت دار، با ذكاوت، سخاوتمند و كريم و قلب هاي رؤف و مهربان. كه پيوسته انسانهاي دور و پيش خود را كمك و ياري مينمودند و مرهم گزار زخمهاي شان بودند و بنا بر همين خصوصيات عالي و ممتاز شان بود كه خداوند به آنها بار بار مژده رفتن به بهشت نعيم را داده بود. در عزم و اراده خويش استوار و ثابت قدم بودند و با شكسته نفسي و وقار عمل ميكردند كه ابهت، قدرت، عظمت و جلال از سيماي مبارك شان آشكار بود.

بند چهاردهم :

بعد از آنها نيز تا بودي خلافت را دوام
كار ما را بود رنگ و رونق و نسق و نظام
رشك ميبردند بر ما مردم عالم تمام
بي تكلف بود ما را گردش گردون به كام
تا خلافت منقرض شد ارتقاي ما نماند
هم به باغ دهر چون شبنم بقاي ما نماند

شرح : بعد از آنكه حضرت پيامبر اسلام رحلت نمودند و خلفاي راشدين نيز داعي اجل را لبيك گفتند يك تعداد رهروان راه حق بودند كه گرچه از لحاظ قدرت سياسي مركزي بي صلاحيت بودند اما شجاعانه راه پيغمبر «ص» و خلفاي راشدين را تعقيب مينمودند و شاعر به همين مسأله اشاره نموده ميگويد تا زماني كه ادامه دهنده گان راه خلافت وجود داشتند كار جامعه، اسلام رنگ و رونق و نظم و ترتيب خاصي داشت كه مردم جهان بر سعادت مسلمانان رشك ميبردند و چرخ جهان به كام مسلمانان حركت ميكرد و اما زماني كه خلافت مسلمانان حقيقي منقرض گرديد و قدرت طلبي و نام و شهرت و پول اندوزي جاي آن را گرفت و نظام بر سر اقتدار بجاي صراط المستقيم راه كژ و غلط را در پيش گرفت، مسلمانان از ترقي و پيشرفت بازماندند و در باغ ترقي و پيشرفت دنيا مانند شبنم بي بقا شدند.

بند پانزدهم :

در هواي سروران دين و مردان رشيد
كار نهسان بزرگ و جان نثاران فقيد
صاحبان همت مستحسن و عزم شديد
چون جناب بو عبيد و سعد و چون ابن وليد
لاله سان باداغدل مانديم در اين نو بهار
هر يكي كوكو زنان چون قمري زار و نزار

شرح : از زماني كه مردان راه حق و عدالت چون ابو عبيده، سعد بن وقاص، خالد بن وليد و ... كه همه سرداران و سروران دلير دين بوده، و دارنده همت نيكو و عزم استوار و كار فهم و جان فدا بودند و پيامبر بزرگوار اسلام راه در راه پخش و نشر دين بر حقش تنها نگذاشتند، از ميان ما رفتند ما (مسلمانان) در اين باغ جهان و در اين فصل نو بهار عمر مان چون لاله با داغ دل خويش تنها مانده ايم و چون قمري زار و ضعيف ناله وفغان سر داده ايم و بر بهار از دست رفته، خويش حسرت ميخوريم.

شاعر در اين بند ميخواهد اين مسأله را بيان كند كه زمان ما به افراد بلند همتي از گونه يي كه در بالا ذكر ايشان رفت ضرورت دارد و مسلمانان براي آمدن ايشان در آتش انتظار ميسوزند.

ادامه دارد

۱۲ د اصحابو د ژوند پلوشي

لیکوال : دکتور عبدالرحمن رافت باشا

ژباړن : بشار

دا د ابو حذیفه یادار سالم دی چی د مهاجرینو بیرغ په لاس کی نیسی او دا چی د قوم سره د هغه د کمزوری او یا د بی اتفاقی ویره وه نو قوم ورته وویل : موږ ویریږو چی ستا لخوا موږ ته څه را پیښ نه شی !

هغه وویل : که زما لخوا تاسی ته څه در پیښ شی نو زه به د قرآن ښه حافظ ونه اوسم بیا پر دښمنانو زورور راوگرځید تر دی چی د دښمنانو لخوا ولگید مگر د هغو میرانی د براء بن مالک «رض» د میرانی په مقابل کی وری او کمزوری وی (رضی الله عنهم اجمعین.)

کله چی د خالد بن ولید د جنگ تنور شیبه په شیبه تودیږی او سختیږی نو براء بن مالک ته یی وکتل او ورته یی وویل : ای د انصارو ځوانه خپل قوم ته نظر وکړه.

براء خپل قوم ته نظر وکړ او ویی ویل : ای د انصارو ډلی ! ځوک دی مدینی ته د بیرته ستنیدلو سوچ نه وهی، له دی ورځی وروسته تاسی ته مدینه نشته بلکه یواځی خدای شته بیا جنت شته.

بیا براء او د هغه ملگرو پر مشرکانو باندی یرغل وکړ، او براء د دښمنانو د صفونو منځ ته ورننوت، او په توره یی یوه خوا او بله د دښمنانو اورمیږونه وهل تر دی چی د مسیلمه او د هغه د ملگرو قدمونه سست شول او بیا یوی باغچی ته شول چی دغه باغچه په تاریخ کی له هغی ورځی وروسته په (حدیقة الموت) یعنی د مرگ په باغچی سره یادیږی او دا په دی سبب چی په هغی کی ډیر لښکریان وژل شوی دی.

حدیقة الموت چی یوه پراخه باغچه او هسک هسک دیوالونه یی لرل مسیلمه او د هغه لښکری چی دغی باغچی ته ورننوتل نو پر خپلو ځانو یی د باغچی دروازی وتړلی، او خپل ځانونه یی د هغی په هسکو دیوالونو خوندی کړل، او بیا یی په مسلمانانو باندی د باغچی له دننه د غشو باران جوړ کړ.

په دغه وخت کی د مسلمانانو زورور او میړنی براء بن مالک وړاندی شو او ویې ویل : ای قومه! ما پر ډال کښینوی، او بیا ډال په نیزو پورته کړی، او ما باغچی ته د دروازی تر څنگ وغورځوی، نو زه به یا شهید شم، او یا به تاسی ته دروازه خلاصه کړم.

براء د سترگو په رپ کی چی ډنگر ؤ پر ډال کښیناست، او ډال په لسونو لسونو نیزو پورته کړ شو، او د مسیلمه د زرگونو زرگونو لښکرو منځ ته وغورځول شو، او په هغو باندی د تندر په شان راښکته شو براء تر ډیره دروازی ته مخامخ د مسیلمه د لښکرو مقابله وکړه، او توره یی د هغو پر اورمیږونو حواله کوله تر دی چی له هغو څخه یی لس تنه ووژل او بیا یی دروازه خلاصه کړه او په دغه وخت کی د هغه ځان ته د غشو او تورو څه د پاسه اتیا گذارونه رسیدلی ؤ.

مسلمانان له هری خوا ډلی ډلی د دیوالونو او دروازی له خوا او لاری باغ ته ورننوتل، او توری یی د مرتدانو پر اورمیږونو حواله کړلی تر دی چی د مسیلمه له لښکرو څخه یی شل زره کسان ووژل، او بیا مسیلمه ته ورغلل، او هغه یی هم وواژه.

براء د علاج لپاره خپل ځای ته ویوړل شو، او خالد تر یوی میاشتی د هغه د زخمونو علاج وکړ تر هغه چی خدای «ج» هغه ته روغتیا ورکړه او د براء په لاس یی د مسلمانانو لښکر ته بری ور په برخه کړ.

براء شهادت ته　چی د حدیقة الموت په ورځ ور په برخه نشو، خپله مینه ښودله، او د خپلی دغی لویی هیلی او دا چی خپل معزز پیغمبر «ص» ته ځان ورسوی پر له پسی جنگونو کی یی گډون کاوه، هماغه ؤ چی د فارس د هیواد د -تستر- د فتحی ورځ راغله نو د فارس خلکو په یوه کلکه او لوړه کلا کی خپل ځانونه خوندی کړل، او مسلمانان له دغی کلا څخه لکه وښی چی د لاس څخه راتاو وی را تاو شول، کله چی کلا بندی اوږده شوه او په فارسیانو باندی سخته راغله نو فارسیان د کلا د دیوالونو له سرونو د اوسپنی د زنځیرونو په راښکته کولو شول، هغو ددغو زنځیرونو په سرونو کی د فولادو کړی تړلی وی، او دغه فولادی کړی یی د اور د سکروټی په شان سری گرځولی وی څو مسلمانان دغه کړی په لاسونو کی ونیسی او د هغو په ځانو ونښلی او بیا د ز[illegible]رونو په راښکودلو سره یا مړه پورته کړل شی، او یا مرگ ته نږدی شوی وی.

په دغه وخت کی یوه کړی د براء بن مالک په ورور(انس بن مالک)ونښتله، کله چی براء خپل ورور د پورته کیدلو په حالت کی ولید نو ژر د کلا د دیوال سرته پورته شو، او هغه زنځیر چی د هغه ورور یی پورته کاوه کلک ونیو، او د خپل ورور د بدن څخه د فولادو د کړیو په ایستلو شو، کله چی د براء لاس په کړی ولگید نو د کړی په سوروالی سره د هغه لاس وسوځید، او لوخړه یی وکړه، مگر براء د هغی هیڅ پروا ونکړه، او خپل ورور یی وژغوره، او ځمکی ته یی راښکته کړ، او په دغه کار سره د هغه د لاس غوښی وسوځیدلی او یواځی هډوکی یی پاتی شول.

په دغه جنگ کی براء د خدای «ج» څخه د شهادت هیله وکړه، خدای د هغه د عاقبو له کړه، او هغه په ډیری خوشحالی سره د شهادت او د خدای د ملاقات سره مخامخ شو.

خدای «ج» دی په جنت کی د براء بن مالک مخ ښایسته کړی، او د هغه سترگی دی د خپل پیغمبر «ص» په ملگرتیا سره خوشحاله کړی، خدای دی له هغه څخه خوشحاله شی، او هغه دی له خپل ذات څخه خوشحاله کړی.

پاتي لري

نامه وارده

اخیراً خواهر ما بنام مریم میرزا زاده از مکروریان سوم در شماره ٥٤ صفحه چهارم مؤرخ ۱٤۲۱/٥/۱ هفته نامه شریعت طي نامه ارسالي خویش راجع به این شفاخانه ابراز نظر نموده اند که با تشکر از این خواهر گرامي مي پردازیم به جوُب نامه ایشان .

خواهر محترمه شما خود نظم و دسپلین شدید شفاخانه را تایید نموده اید ولي از پاکي و نظافت آن هیچ یاد آوري نکرده اید در حالیکه بهترین صفت براي يك شفاخانه اولاً نظافت و به تعقیب آن نظم و دسپلین آن مي باشد که بعداً چنین انتقاد نموده اید.

« غرض دریافت شعبه نسایي ولادي از طرف يك تن از خواهران رهنمایي شده زمانیکه به دروازه مذکور رسیدم بیرو بار زیاد را دیدم هر يك از مریضان تلاش مي ورزیدند تا داخل گردند اما دروازه بسته بود ولي گاه گاهي دروازه باز میگردید و یکي دو تن داخل شده و دروازه دو باره بسته میشد که بعد از يك ساعت انتظار و کشمکش با دادن ٥۰۰۰ افغاني وارد دهلیز شدم و به اطاقیکه داکتر صاحبان نسایي ولادي مریضان را معاینه مي نمودند رفتم ولي داکتر صاحبان تشریف نداشت »

اولاً بجواب انتقاد شما باید گفت که شفاخانه و مسوولین آن نه بلکه شما خود در بي نظمي و بیروبار شریك بودید زیرا شما مي توانستید انتظار بکشید و شرایط گرفتن پول را براي کارگر مساعد نساخته ولي شما با دادن ٥۰۰۰ افغاني که آنهم از طرف کارگر مطالبه نگردیده بود او را به گرفتن پول تشویق و سبب بي نظمي و نقض قانون شفاخانه گردیده اید لذا به اساس قانون اسلامي که رشوت دهنده و رشوت گیرنده هر دو مجرم اند شما نیز مجرم پنداشته میشوید بعداً نوشته اید که داکتر نسایي ولادي تشریف نداشته در حالیکه قبلاً تذکر داده بودید که دروازه گاه گاهي باز میگردید و یکي دو تن داخل میشدند که این خود ثابت مي سازد که داکتر نوکریوال موجود بوده و این اشخاص را معاینه مي کردند در غیر آن این اشخاص ضرورت به ماندن در دهلیز نداشتند بعداً نامه خود را چنین ادامه مي دهید « پرسان نمودم گفتند که دوکتوران مصروف ویزت مریضان داخل بستر هستند در این لحظه يك تن از دوکتوران مردانه که معلوم میشد متخصص است از دهلیز میگذشت کارگر دهن دروازه برایش گفت داکتر صاحب چند مریض شما را میخواهند ولي داکتر با بي اعتنایي زیاد جواب داد که وقت ندارم حالا وقت ویزت است اگر نه ني من هم باشد نمي بینم اش »

اول اینکه نمي دانم خواهر ما با اولین برخورد چگونه تشخیص نمود که داکتر صاحب مذکور متخصص است و علاوه بر آن خلاف مقررات شفاخانه در هنگام ویزت داخل دهلیز گردیده و از داکتر صاحب خواسته تا مریض را معاینه نماید در حالیکه داکتر صاحب مذکور وظیفه خویش را بالاتر از شناختهاي شخصي دانسته و برایش جواب داده که در وقت ویزت کسي را نمي بینم که این خود علاقه مندي وظیفه شناسي داکتر مذکور را آشکار مي سازد که به مریضان عاجل حق اولیت را مي دهد سپس خواهر ما مي نویسد که از طرف یکي از داکتر صاحبان انائیه مریضش و نسخه برایش تجویز میگردد و در ضمن داکتر آدرس معاینه خانه، خویش را برایش داده تا بعداً مریضش را در معاینه خانه ببیند که در این صورت حتماً آن داکتر نام خویش را براي مریض و پایوازش نیز گفته است پس چرا مریم جان با ایشان شریك جرم شده و از ذکر نام داکتر خود داري نموده است ریاست شفاخانه بدون همکاري مردم به تنهایي هیچ کار را پیش برده نمي تواند سپس خواهر ما مي نویسد که به ریاست شفاخانه مراجعه نموده ولي رئیسه صاحب تشریف نداشت بجواب این خواهر باید گفت : که آیا در شفاخانه غیر از رئیسه شخصي مسئول دیگر چون معاون ، مدیر نرسنگ ، شف سرویس مربوط و مدیریت اداري موجود نبود اداره شفاخانه رابعه بلخي خاطر نشان مي سازد که هر نوع انتقاد را که جنبه اصلاحي و سازنده داشته باشد پذیرفته ود زمینه توجه بیشتر خواهد نمود اما در مورد نامه این خواهر ما باید روزنامه ابتدا تحقیق مي نمود یکبار به مرجع مربوط در تماس شده و از حیثت موضوع اطلاع حاصل کرده سپس به نشر چنین نامه اقدام مي نمود تا به این صورت مطالب نشر شده در روزنامه پایه و اساس بهتر پیدا نموده و مورد پذیرش مردم واقع گردید.

ریاست شفاخانه رابعه بلخي و دوکتوران موظف

ریاست محترم شفاخانه رابعه بلخي !

اینك نامه ارسالي شما را بدست نشر سپرده و متمني ایم تا هر چه بیشتر در راه خدمت و آسایش هموطنان مظلوم خویش مصدر خدمت شده بتوانید.

در رابطه به مضمون ومحتویات نامه ارسالي خواهر مریم میرزا زاده باید گفت که هفته نامه شریعت بیانگر آرمانهاي شرعي هموطنان ما میباشد در مورد صحت وسقم همچو شکایات حتي الوسع تلاش نموده و مینمایيم و روي همین ملحوظ نامه خواهر مریم و نامه جوابیه شما را یکي بعد دیگر بدست نشر سپرده قضاوت بعدي را به خوانندگان گرامي واگذار نموده و براي شما مزید توفیق از خداوند بزرگ مي خواهیم.

اداره

د فاتحې اعلان

لکه چې د رانه هیواد وال خبر دي د روان لمریز کال د زمري په پنځلسمه نیټه د اومر د نړیوالي موسسې د ماین د خبرتیا او ژغورنې د پروګرام اووه تنه کارکوونکي د خپلې دندې د ترسره کولو په بهیر کې د بادغیس ، هرات په لار کې د ناپیژندل شویو سړي وژونکو له خوا په نا ځوان مردانه توګه شهیدان شول د دغو مظلومو شهیدانو فاتحه د زمري په نولسمه د چهارشنبې په ورځ د غرمې وروسته له ۲-٤ بجو پورې په کابل - هرات او د سهار له ۸-۱۱ بجو په جلال آباد کې اخیستل کیږي. هیله ده د فاتحې په مراسمو کې په خپل ګډون هیواد او خلکو ته د دغو شهیدانو د سر په بیه د خدمتونو او قربانیو پر درناوي او دعا د دوی سپیڅلي ارواوې خوشاله کړي . * په کابل کې د وزیر محمد اکبر خان مینې جامع جومات
* په هرات کې د هرات جامع جومات * په ننګرهار کې د عیدګاه جامع جومات

تسلیت او تعزیت

د شریعت اوونیزې اداره پداسې حال کې چې د مجاهد شاعر خدای بښلي شهید محمد اياز ملنګيار او دده د نورو شهيد شويو ملګرو له ویرجنو کورنیو سره د دوی په ویر کې ځان شریک بولي د وی ټولو ته له متعال خدای څخه د جمیل صبر او جزیل اجر غوښتنه کوي .

د کابل - کندهار د ...

ندی پیل کړی.

د فواید عامې محترم وزیر زیاته کړه:

موږ تر اوسه پوازې په خپلو تخنیکي امکاناتو کار پیل کړی خو په دې لټه کې یو چې شخصي ټیکه لرونکي هم په دې کار کې را سره ملګري او شریک کړو. نوموړي د اکلو د موسسې د ځینو سامان الاتو په اړه وویل چې د هغوی له ځینو وسایلو نه هم موږ کار اخلو.

په کابل کې د اومر ...

توګه په شهادت ورسیدل د هغوی د شهادت پیښه د اومر د موسسې محترم مسول حاجي فضل کریم له بي بي سي راډیو سره په یوه مرکه کې داسې بیان کړه :

دغه اووه تنه د اومر موسسې د ماین پاکونې د پروګرام کار کوونکي و هغوی دری میاشتې مخکې دی سیمې ته لیږل شوی و تر څو هلته د سیمې خلک او له ایران څخه راغلي مهاجرین د ماین له خطرونو څخه خبر کړي. هغوی اووه وارډه اوس بیرته خپلو کورونو ته د راتګ په حال کې و چې دا دې پیښې ښکار شول.

ده زیاته کړه : له بده مرغه له شلو ، پنځه ویشتو کالو راهیسې دا لړی روانه ده او موږ په دغو څلورو پنځو کلونو کې یو څه د امنیت ساه اخیستې وه او په ډیره ډاډ منه توګه مو د افغانستان په ډیرو سیمو کې پرته له کومه مشکله کار کاوه .

دغه پیښه زموږ لپاره یوه غیر مترقبه پیښه وه چې د لومړي ځل لپاره راسره کیږي. دا ټولې ټری ته معلومه ده چې اومر موسسه یوه غیر دولتي بې طرفه موسسه ده چې خپلې دندې د خلکو د سوکالي لپاره تر سره کوي نور هیڅ کوم سیاسي تړاو له چا سره نلري چا چې دغه کار تر سره کړی ریښتیا چې ډیر نا ځوان مردانه افغان دښمنه او اسلام دښمنه عمل یې تر سره کړی.

منقریب اهالي کارته ...

فعالیت داشته که پروژه هاي کاري آن از پول و مساعدت افغانهاي مهاجر مقیم ایالات متحده امریکا و کشور کانادا تمویل و بهره برداري میگردد.

دفتر مرکزي این مؤسسه در ایالت اورجینیا ایالات متحده امریکا و نمایندگي هاي آن در شهر هاي پشاور پاکستان و کابل قرار دارد.

محترم نجیب الله اضافه داشت : باید تأکید داشت که ما در زمینه حفر دو حلقه چاه عمیق همکاري انجنیران وزارت خانه هاي آب و برق و معدن و صنایع ا.ا.ا را با خود داشتیم البته کار ما در زمینه ۷۰ فیصد اتمام بوده و با اتصال نل چاه هاي مذبور با نل هاي عمومي جریان آب آشامیدني صحي مناطق متذکره عنقریب تأمین میگردد که با تأمین شدن جریان این آب أهالي ساحات مزبور دیگر از مصیبت کمبود آب آشامیدني بطور کلي نجات خواهند یافت.

در پروگرام ماین ...

عبداللطیف متین مسؤول بخش ماین پاکي دفتر یونوچا در کابل به خبرنگار ما اظهار داشته افزود : البته انگیزه اصلي این کاهش عدم بودجه و گرایش تمویل کنندگان این پروگرام نسبت به افغانستان مي باشد.

وي اضافه داشت : هم اکنون در بخش ماین پاکي افغانستان ٤۸۰۰ افغان مصروف فعالیت در استقامت هاي مختلف مي باشد که با تطبیق این امر تقلیل و کسرات در هر بخش این برنامه بدون تردید متصور است .

نامبرده علاوه نمود : پس منظر این امر بیصبرانه در قبال خویش کمبود پرسونل و تقلیل معاشات و مصارفات را دنبال خواهد داشت که از هر حیث قابل اندیشه میباشد.

وي این اقدام را در حالي خواند که اداره ماین پاکي افغانستان در سال ۲۰۰۰ میلادي پروگرام هاي وسیعي ماین پاکي را روي دست داشت که با اعلان این امر کلیه پروگرام هاي انکشافي ماین پاکي در افغانستان نقش بر آب گردید.

مهربان

منسوبین شفاخانه ۲۵۰ بستر ...

نسایي ، جراحي، داخله، گوش و گلو ، جلدي و عقلي و عصبي بوده و با ورزیده و مجرب ترین پرسونل ۲٤ ساعته در خدمت مریضداران محترم قرار دادر که تمامي خدمات طبي در این شفاخانه مجاني بوده و براي پذیرش مریضان آماده مي باشد .

شفاخانه مذکور مریضان را در دو کتگوري سراپا و داخل بستر معاجله و تداوي مینمایند :

بخش اول آنعده مریضان که تکلیف کمتر داشته و قابل بستر نمي باشند به صورت سراپا معاینه و ادویه لازمه تجویز میگردد که تعداد این گونه مریضان فوق العاده زیاد مي باشد.

بخش دوم را مریضان داخل بستر تشکیل میدهد که هم اکنون تمام بستر ها مملو از مریضان بوده و حتي يك بستر هم خالي نمي باشد از اینکه تعداد مریضان در این شفاخانه فوق العاده زیاد بوده داکتر صاحبان بتوانند به صورت بهتر مریضان را تداوي نمایند بناً از عموم مریضداران گرامي صمیمانه تقاضا مي نماییم تا در وقت ویزت مزاحم داکتر صاحبان نگردیده و مطابق مقررات شفاخانه در اوقات معین از مریضان خویش عیادت نمایند (از ساعت ٦-۷ صبح و ۱۲ الي ٤ بعد از ظهر اداره شفاخانه رابعه بلخي جهت بهبود بخشیدن کار و کمك بهتر به مریضان هر نوع پیشنهادات و انتقادات سالم را که به نفع شفاخانه و مردم بیچاره ما باشد با جبین گشاده میپذیرد .

د جرمنی د حکومت پریکړه ...

دغه عمل د ټولو نړیوالو موازینو او د بشر د حقوقو د أصولو پر خلاف دی اوس یو شمیر هغه معیوب او معلول ماشومان چې د علاج او تداوی لپاره د المان د سولی کلی ته لیږدول شویدی بی سر نوشته په المان کی پاتی دی. او یو شمیر نور ماشومان له پخوانی موافقی سره سم جرمنی ته د علاج او درملنی په مقصد دلیږدونی په خاطر په افغانستان کی د انتظار په حالت کی دی.

د بهرنیو چارو وزارت محترم معین زیاته کړه په افغانستان باندی د بندیزونو د لګولو په باب د ملګرو ملتو د سازمان د امنیت شورا په پریکړه لیک کی د بشری مرستو لیږدول مستثنی ګرځول شویدی.

خو اوس د المان حکومت د دریم هیواد په اشاره د آریانا افغان هوایی شرکت د الوتکو الوتنی چې بوازی د بشری دندو د ترسره کولو په خاطر بی الوتنی کولی هم بندی کړیدی.

موږ په دی اړوند د ملګرو ملتو له سازمان او د المان له هیواد سره تماس ونیوه چې دغه مساله حل شی خو له بده مرغه د جرمنی حکومت زموږ بیا بیا غوښتنو ته مثبت ځواب ندی وراندی کړی.

له دی أمله موږ د ملګرو ملتو له سازمان او د دغه سازمان له سرمنشی محترم کوفی عنان څخه غوښتنه کوو چې د المان په هیواد باندی زور واچوی چې د اریانا افغان هوایی شرکت الوتکو ته چې د معیوبو او معلولو ماشومانو د لیږدونی په مقصد الوتنی کوی د الوتنی اجازه ورکړی.

په پای کی محترم مولوی عبدالرحمن زاهد د ژورنالستانو پوښتنو ته ځواب وروایه .

هیأت ا.ا.ا وارد ...

عیسی اخند وزیر معادن و صنایع و محترم ملا عبدالجلیل اخند معین سیاسی وزارت امور خارجه شامل است مصروف دیدار از کشور هاي آلمان و سلواك میباشند.

در این سفر و دیدار هیأت متذکره طي ملاقاتها با مسوولین حکومتي و غیر حکومتي کشور هاي متذکره مشکلات مردم افغانستان را ناشي از خشکسالي موجود مطرح نموده پیرامون توسعه مناسبات تجارتي، صنعتي و اقتصادي میان کشور هاي یاد شده بحث و تبادل نظر نموده تامین همچو روابط را به نفع صلح و ثبات در افغانستان و منطقه تلقي نمودند .

هیأت افغاني تصریح نمود که با اعاده صلح و ثبات در افغانستان شرایط بهتر کار و سرمایه گذاریهاي خارجي فراهم گردیده و جوامع بین المللي نباید مردم افغانستان را که کشور شان از هر حیث در جنگ با روسها ویران گردیده تنها گذارند.

همچنان هیأت متذکره با اعضاي پارلمان کشور آلمان دیدار نموده و در مورد انکشاف روابط دو جانبه میان آلمان و افغانستان صحبت هاي مفید انجام داده اند.

د کانو او صنایعو وزارت د کانو د استخراج ...

افغانستان معدنونه له دی ناروا یرغل نه تر بل هر څه زیات تاوانی شول. موږ اوس په خپلو موجودو امکاناتو د ځینو کانو لکه د لوګر ولایت د کرومیټو د چهار اسیاب د چهل دختران د چونی او د خیرخانی مینی د مرمرو په را ایستلو پیل کړی. پدی را ایستلو کی د کانو او صنایعو وزارت مجرب او مسلکی کار کوونکی په کار لګیا دی. موږ هیله لرو چې له دی لاری به د هیواد اقتصادی حالت ډیر ښه شی نوموړی د کانو او صنایعو وزارت له لاری د لاس ته راغلیو عوایدو په اړه داسی ووېل : په ۱٤۱۸ کال کی ۳٥۹ ملیونه افغانی ، په ۱٤۱۹ کال کی ۸۳٤ ملیونه افغانی ، په ۱٤۲۰ کال کی ۷٤۳ ملیونه افغانی او د ۱٤۲۱ کال په لومړی ربع کی ۱۱۲۷،۷۸۸۲۲٥ ملیارده افغانی عواید تر لاسه شوی. موږ نور هم زیار باسو چې د خپل وزارت په مربوطاتو کی پداسی توګه کار وکړو چې له یوی خوا مو د خپل هیواد په بیا رغونه کی مثبت واقع شی او له بلی خوا وتوانیږو چې د خپل مسلمان ملت په وړاندی خپل مسئولیت سرته ورسوو.

یو تن جعل کار ...

د عدلیې وزارت د بودجې د مدیریت مامور محمد شریف د محمداجان زوی چې د عدلیې د وزیر محترم ملا نور الدین ترابي له لاسلیک څخه یې ناوړه استفاده کوله او دغه راز د خپلې شخصي ګټې په خاطر یې د دغه وزارت د اداري ریاست د حواله جاتو په فورمو کې قلم وهلی او تراشلي یې وی پرون لاس په لاس ونیول شو ، د عدلیې وزارت یو مسؤل خبر ځای ووېل دده یو شمیر چاپي او غیر چاپي پاڼې هم غلا کړې وې او له زیاتې مودې را پدیخوا تر تعقیب او څارنې لاندې و چې پرون لاس په لاس ونیول شو . دی پرون د عدلیې د محترم وزیر لخوا په تعذیري ډول محبس ته وسپارل شو .

د امریکی د اور ...

کی اور لګیدلی دی او د دغه هیواد مأمورینو ویلی دی که چیری د هوا حالات بدلون ونه موی د هغه کنټرول به هم سخت شی. د امریکا د متحده ایالاتو په ځنګلونو کی د اور لګیدنی سختوالی په تیرو پنځو سوو کلونو کی بی ساری دی تاکل شویده د امریکا د متحده ایالاتو جمهور رئیس بل کلنټن سیا د غو سیمو ته لاړ شی او د دغه هیواد د اور وژنی ځواکونه د خپلو کارونو د ښه تر سره کولو لپاره وهڅوی .

د ګډون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
د خلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

منابع تامین اب...

کار شناسان علت الوده گي آبهاي آشامیدني را در چین به ریختن و مخلوط شدن ذباله و مواد فضله کارخانه ها نسبت داده اند.

بنا بر این گزارش تعداد کثیري از ساکنین نزدیك رود خانه هاي چین به امراض مختلف مبتلا شده اند.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirate's Printing Press